مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۹۱** (از ۱۱ الی ۱۸ حوت ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**د امریکا ـ طالبانو په پنځمه ناسته کې د بحث مهم ټکي**

د بهرنیو ځواکونو حضور ........ ۴

له ترهګرۍ سره مبارزه ........ ۵

اوربند ........ ۵

بین‌الافغاني خبرې اترې ........ ٦

د روانو خبرو اترو راتلونکی ........ ۷

**بارنده‌گی‌های اخیر؛ خسارات و تلفات سنگین آن**

بارنده‌گی‌های اخیر ........ ۹

خسارات و تلفات بارنده‌گی‌های اخیر ........ ۹

نبود اقدامات پیشگیرانه ........ ۱۰

نتیجه‌گیری ........ ۱۱

## مقدمه

په افغانستان کې د سولې په تړاو د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو پنځم پړاو تر پخوانیو هغو د ډېرو ورځو لپاره وغځېده. دغه پړاو ته له دې امله هیلې زیاتې دي چې د طالبانو د مشر ملا هیبت الله آخوند سیاسي مرستیال ملا عبدالغني برادر هم په دغه پړاو کې برخه لري.

له تېرو څو ورځو راهیسې سربېره پر دې چې په دوحه کې د طالب او امریکایي استازو ترمنځ مخامخ خبرې روانې دي، ترڅنګ یې د سیمې د ځینو هېوادونو چارواکو هم په قطر کې له خلیلزاد او ملا عبدالغني برادر سره لیدلي دي. د پنځم پړاو خبرو په اړه په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین رسینو ته په خبرو کې ویلي چې که څه هم بحثونه پېچلي دي؛ خو مثبت لوري ته روان دي.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو د پنځم پړاو په اړه دواړه لوري د افغانستان د سولې په اړه په خبرو کې د پرمختګ خبره کوي؛ خو داسې ښکاري چې دا پرمختک ډېر سوکه دی او د ځینو موضوعاتو په اړه هوکړې ته رسېدل به لا ډېر وخت او بحثونه وغواړي. د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې پر همدې موضوعاتو بحث شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه په افغانستان کې د وروستیو اورښتونو له کبله خلکو ته د ځاني او مالي زیانونو اوښتو ته ځانګړې شوې ده. که څه هم سږني ژمي کې د زیاتو واورو او بارانونو اورښت په راتلونکي کال کې د وچکالۍ وېره کمه کړې ده؛ خو تازه یې د هېواد په ۱۷ ولایتونو کې لسګونه خلکو ته مرګ ژوبله واړوله او د خلکو سلګونه کورونه یې وران کړل.

# د امریکا ـ طالبانو په پنځمه ناسته کې د بحث مهم ټکي



د طالبانو او امریکايي پلاوي ترمنځ د افغان سولې په تړاو د مخامخ خبرو اترو پنځم پړاو، دوې اوونۍ وړاندې (د ۱۳۹۷هـ ش کال د حوت په ٦مه) د دواړو لورو ترمنځ په دوحه کې پیل شو. که څه هم د خبرو په دې پړاو کې د حوت په ۹مه او ۱۰مه نېټه وقفه هم راغله؛ خو له دغې دوه‌ورځنۍ وقفې وروسته د حوت په ۱۱مه بېرته خبرې پیل شوې او لا هم روانې دي.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو د روان پړاو په اړه که څه هم ډېر جزئیات څرګند نه دي؛ خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند رابرټ پالادینو د روانو خبرو په اړه ویلي وو، چې په قطر کې د واشنګټن او طالبانو ترمنځ د سولې له هوکړې وروسته له ترهګرۍ سره د مبارزې د هوکړې پر څرنګوالي، له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو، له افغان حکومت سره د طالبانو خبرې او اوربند باندې خبرې روانې دي. دغه‌راز په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر هم رسنیو ته ویلي، چې خبرې په مثبت لوري روانې دي.

په دوحه کې د امریکا او طالبانو پنځمې ناستې تر پخوانیو هغو ډېر وخت ونیو او داسې ښکاري، چې د دواړو لورو ترمنځ په مختلفو موضوعاتو ژور بحثونه روان دي. دا چې په روانو بحثونو کې د اختلاف مهم ټکي کوم دي او په اړه یې د دواړو لورو دریځونه څه دي؟ دلته یې په اړه بحث شوی دی.

## د بهرنیو ځواکونو حضور

طالبان له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې د خپلې وسلهوالې مبارزې یوازینی لامل په افغانستان د بهرنیو ځواکونو حضور ګڼي او په روانو خبرو کې هم تر ټولو مهمه او د بحث محوري موضوع له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل بلل کېږي، چې په اړه یې لا هم وروستۍ پرېکړه ناخرګنده ده او داسې ښکاري چې دواړه لوري هڅه کوي، پر یو بل خپل شرطونه ومني.

ټرمپ د امریکا کانګرس ته په خپله کلنۍ وینا کې له افغانستانه د امریکایي سرتېرو په ایستلو ټینګار وکړ؛ خو بل پلو له افغانستانه د امریکایی سرتېرو له ایستلو سره د امریکا د سنا مخالفت، یا هم د امریکایي چارواکو له لوري دا څرګندونې، چې «که له افغانستانه ځواکونه باسو، نو پر استخباراتي چارو به تمرکز زیاتوو»، له افغانستانه د امریکایي عسکرو د اېستلو په اړه د امریکایي چارواکو ضد او نقیضو څرګندونو دا موضوع پېچلې کړې ده.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د مخامخ خبرو په لړ کې طالبانو هم تل ټینګار کړی، چې غواړي له هر څه وړاندې له امریکا سره په افغانستان کې د بهرنیو ځواکو د نظامي حضور د پای ته رسولو په اړه یوې هوکړې ته ورسېږي. په دې اړه که څه هم دقیق جزئیات نه دي ورکړل شوي؛ خو د رسنیو په حواله، د قطر په روانو خبرو کې یوه مهمه موضوع له افغانستان د امریکایي عسکرو د وتلو مهالوېش دی، چې دواړه لوري نه پرې جوړېږي. داسې ویل کېږي چې امریکا د وتلو لپاره له دریو تر پنځو کلونو پورې وخت غواړي؛ خو طالبان د یوه کال څخه په کمه موده کې د بهرنیو ځواکونو وتل غواړي.

د دې ترڅنګ، دا چې امریکا نه غواړي خپل ټول ځواکونه په بشپړ ډول له افغانستانه وباسي او په دې تړاو هڅه کوي د استخباراتي چارو لپاره یې یو شمېر سرتېري په افغانستان کې پاتې شي، له کبله یې د بهرنیو ځواکونو د وتلو موضوع پېچلې شوې ده. طالبان هڅه کوي، بهرني ځواکونه په بشپړ ډول ووځي او امریکایي لوری هڅه کوي، د عراق په څېر دلته هم تر یوه نوم لاندې دلته خپل یو شمېر سرتېري وساتي.

## له ترهګرۍ سره مبارزه

د سولې له هوکړې وروسته له "ترهګرۍ" سره مبارزه او دا چې په راتلونکي کې به د افغانستان خاوره د نورو هېوادونو پر ضد نه کارول کېږي، هغه موضوع ده، چې امریکا يې په روانو خبرو کې له طالبانو سره د سولې او په افغانستان کې د خپل نظامي حضور د پای ته رسولو په موخه د شرط په توګه وړاندې کوي.

په دې برخه کې طالبان اړ دي، چې امریکا او نړیوالو ته داسې قانع کوونکي ضمانتونه ورکړي، چې امریکا او نړیوال بیا د همدغو ضمانتونو په نظر کې نیولو سره خپل خلک قانع کړي او د خپلو عسکرو ایستل پیل کړي؛ خو پوښتنه دا ده چې طالبان به څنګه امریکا ته له "ترهګرۍ" سره د مبارزې ضمانت ورکوي، په داسې حال کې چې داعش له تېرو څلورو کلونو راهیسې د وخت په تېرېدو سره په افغانستان کې خپل فعالیت پراخوي او په سیمه کې مختلفې وسلهوالې ډلې فعالې دي. له بله پلوه، د دواړو لورو ترمنځ د "ترهګرۍ" د تعریف په اړه شته اختلاف دا خبرې پېچلې کړې دي.

## اوربند

د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو په روان بهیر کې د بحث بله مهمه موضوع د اوربند ده. که څه هم طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره دا رد کړې، چې ګواکې د قطر په روانو خبرو کې د اوربند او افغان حکومت سره د خبرو په اړه یې له امریکایي لوري سره بحثونه کړي؛ خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې له طالبانو سره په روانو خبرو کې اروبند او له افغان حکومت سره خبرې هم د بحث موضوعات دي.

انګېرنې دا دي چې طالبان نه غواړي له امریکا سره د بهرنیو ځواکونو د حضور په اړه تر یوه نهایي توافق وړاندې اوربند وکړي. ځکه طالبانو تېر کال د کوچني اختر په ورځو کې درې ورځې اوربند وکړ؛ خو په دغه اوربند کې ښارونو ته د دوی د جنګیالیو راتګ او له خلکو او دولتي چارواکو او نظامیانو سره د دوی وخت تېرول، د دې لامل شول چې په ځینو طالب جنګیالیو کې د جګړې روحیه را کمه شي.

پر دې ټولو سربېره که چېرې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې له هوکړې وروسته د اوربند په اړه خبرې کېږي، نو دا چې اروبند به کله کېږي؟ آیا د ټولو بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به اوربند اعلانېږي او که د وتلو په جریان کې به اعلانېږي؟ اوربند به یوازې له بهرنیو ځواکونو سره وي او که له افغان امنیتي ځواکونو سره هم وي؟ اوربند به د څومره وخت لپاره وي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي، چې د اوربند په اړه مطرح کېږي او توافق ته رسېدل یې زیات وخت او بحث ته اړتیا لري.

## بین‌الافغاني خبرې اترې

له افغان حکومت سره د طالبانو خبرې اترې، هم امریکا او هم نړیوالو ته یو مهم اړخ دی. په اوس مهال کې افغان حکومت او طالبان د یو بل خلاف دریځونه لري. طالبان نه غواړي له افغان حکومت سره خبرې وکړي او افغان حکومت له خپل حاکمیت پرته د سولې هېڅراز خبرې نه مني. په داسې یوه وضعیت کې که چېرې افغان حکومت منزوي کېږي او له طالبانو سره د افغان حکومت په نه موجودیت کې د سولې کوم توافق لاسلیک کېږي، دغه هوکړه به په لویه کچه وننګوي.

طالبان د اساسي قانون د تعدیل او په ټولیز ډول د نظام په جوړښت کې د اصلاحاتو خبرې کوي؛ خو بل پلو ته افغان حکومت نه غواړي چې د طالب په راتګ سره دې د افغانستان نظام طالب محوره وي. دا هغه ټکي دي چې د حل‌لارې موندل به یې زیات بحثونه او وخت وغواړي؛ خو د دې بُن‌بست لپاره غوره داده چې د سولې یو ټول شموله او ملي بورډ جوړ شي او یوازې د حکومت پر ځای له طالبانو سره د سولې خبرې وکړي.

له بلې خوا د افغانستان جګړه یوازې دوه اړخه (امریکا او طالبان) نه لري، بلکې یو دریم او مهم اړخ یې د افغانستان ملت دی، چې د دغه بهیر په تړاو یې ځینې مخالف دریځونه هم تقویه کړي دي. که د ملت په استازیتوب یو شمیر اغېزناک شخصیتونه په دغو خبرو اترو کې ګډون وکړي او طالبان ورسره په خبرو کې هغه اندېښنې رفع کړي، چې له ډېرو خلکو سره شته دي. دا هغه څه دي چې ښایي د یوه موحد افغاني دریځ په راڅرګندېدلو کې مرسته وکړي. ځکه نو طالبان باید هڅه وکړي چې د افغانستان د استقلالیت داعیه د ټول ملت داعیه کړي او په دې توګه په امریکا فشار واردول ممکن شي.

په ورته وخت کې ملت بیا داسې یوې تجربې ته، چې مخکې یې ناکامي ثابته شوې، له بیا ورګرځېدو اندېښنه لري او هغه یو طرفه او له یوې ډلې جوړ شوی نظام او حکومت دی. همدا راز ډېر خلک له هغه اقتصادي وضعیت څخه هم اندېښمن دي، چې په هغو وختونو کې په افغانستان باندې حاکم و. دا اندېښنې هغه وخت رفع کېدلی شي، چې ملت په ډاډ سره د دې ضمانت ترلاسه کړي چې د طالبانو په شمول هېڅ یوه ډله هم د هغه حالت د تکرار اراده نه لري او څوک په زور او د ټوپک په مرسته واک ته د رسېدو او په واک کې د پاتې کېدو اراده نه لري.

## د روانو خبرو اترو راتلونکی

په نړیواله کچه د سولې ترسره شوو تړونونو ته په کتلو سره داسې ښکاري، چې د سولې خبرې اترې په ټولیز ډول ډېر وخت او زغم غواړي. د بېلګې په توګه په کولمبیا کې د حکومت او فارک ډلې ترمنځ د خبرو اترو بهیر د ۲۰۱۲م کال په سپټمبر میاشت کې پیل شو؛ خو څلور کاله یې وخت ونیو او د سولې تړون د ۲۰۱٦م کال په اګست کې لاسلیک شو. دغه‌راز په افغانستان کې دننه د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې خبرې اترې ان په ۲۰۱۰م کال کې پیل شوې وې؛ خو تړون یې د ملي یووالي حکومت پر مهال په ۲۰۱۷م کال کې وشو، په داسې حال کې چې حزب اسلامي د طالبانو په پرتله د سولې په تړاو خورا نرم دریځ درلود.

د سولې په تړاو د امریکا او طالبانو د مخامخ خبرو اترو له پیله یوازې څه باندې پنځه میاشتې تېرېږي، د سولې په تړاو په نړۍ کې د شوو تړونونو او په افغانستان کې له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې که روانې جګړې ته وکتل شي، نو سخته ده چې په دومره لږ موده کې دې د یوې پېچلې جګړې د پای ته رسولو په موخه د سولې توافق وشي.

له بله اړخه په روانو خبرو کې طالبانو د انتظار سیاست خپل کړی او انګېرنې دا دي چې طالبان په اوس مهال کې داسې یوه حالت کې دي، چې د ځان لپاره په انتظار کې تاوان نهویني، بلکې په ګټه کې تاوانویني. طالبان پوهېږي چې امریکا له افغانستانه د وتلو نیت لري او ښايي ټرمپ هم د خپل هېواد له ټاکنو وړاندې د خپلې بریا په خاطر د افغانستان په اړه خپل تصمیم ونیسي؛ ځکه نو طالبان ډاډه دي چې امریکا د وتلو تصمیم نیسي، نو ځکه د خبرو اترو په ځنډولو کې ډېره ګټه د ځان ګڼي.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو په ځنډ کې یو بل لامل دا هم کېدای شي، چې دواړه لوري د خپل ځان لپاره د ډېرو ګټو خوندي کولو لپاره بحثونه کوي. له دې ټولو سره بیا هم بحثونه دومره پیچلي دي چې هر څنګه وي وخت ته اړتیا لري او دا به ناسمه وي چې ووایو د افغان سولې په اړه به دواړه لوري د ټولو موضوعاتو په اړه په لنډه موده کې یوه توافق ته ورسېږي. پای

# بارنده‌گی‌های اخیر؛ خسارات و تلفات سنگین آن



هفتهٔ گذشته (۱۰ و ۱۱ حوت سال ۱۳۹۷هـ ش) در ۱۷ ولایت کشور به دلیل ریزش شدید برف و باران سیلاب‌هایی سرازیر شد که در کنار تخریب صدها خانهٔ مسکونی، باعث کشته و زخمی شدن ده‌ها تن از هموطنان ما گردید. در این میان سنگین‌ترین تلفات را مردم ولایت‌های جنوب کشور متحمل شدند.

با آنکه افزایش بارنده‌گی برف و باران در زمستان امسال امیدواری‌هایی برای رفع خشک‌سالی در افغانستان را نیز بیشتر ساخته است؛ اما خسارات ناشی از این بارنده‌گی‌ها زنده‌گی مردم را متأثر ساخته و باعث آواره شدن صدها خانواده گردیده است.

عدم رسیده‌گی به مشکلات مردم در بارنده‌گی‌های اخیر و نبود اقدامات پیشگیرانهٔ دولت افغانستان در برابر حوادث طبیعی مورد انتقاد مردم قرار گرفته است. در برخی ولایت‌ها خانواده‌هایی که به دلیل سیلاب‌ها آواره شده‌اند، تا هنوز حتی به نیازهای اولیهٔ آنان نیز رسیده‌گی نشده است.

در این مطلب روی بارنده‌گی‌های اخیر در کشور، خسارات و تلفات ناشی از این بارنده‌گی‌ها و مشکلاتی که مردم در این وضعیت با آن دست‌وپنجه نرم می‌کنند، مورد بحث قرار داده شده است.

## بارنده‌گی‌های اخیر

افزایش بارنده‌گی‌ها در سراسر کشور در حالی است که سال گذشته به دلیل خشک‌سالی در ۲۰ ولایت افغانستان نزدیک به دو میلیون فرد با نبود مواد خوراکی مواجه بودند و به همین دلیل حدود ۳۵۰ هزار افغان از سرزمین‌های شان آواره شده بودند.

به گفتۀ ادارۀ هواشناسی افغانستان میزان بارنده‌گی‌های امسال در طول دو دهۀ اخیر کم‌سابقه بوده. در زمستان امسال در تمام کشور میزان بلند بارش برف و باران یک نوید خوب برای از بین رفتن خشک‌سالی در سال‌های گذشته بوده است.

بر بنیاد یافته‌های وزارت انرژی و آب افغانستان، در سال روان میزان بارنده‌گی نسبت به سال گذشته یک و نیم برابر و نیز نسبت به پنج سال گذشته ۵۱ درصد افزایش یافته است. این وزارت سال ۱۳۹۸ هـ ش را نظر به افزایش آب، یک سالی خوب ارزیابی کرده و گفته است که افزایش بارنده‌گی برف و باران در کشور برای تأمین منابع آب زراعتی و بهبود محیط زیست کشور، مؤثر خواهد بود.

با برف‌باری‌های امسال میزان برف‌باری در مناطق سرد سیر کشور نیز نظر به سال‌های قبل افزایش یافته است. به گفتۀ مسوولان ریاست حفظ سالنگ‌ها، ریزش برف‌های اخیر در سالنگ‌ها در بیست سال اخیر بی‌پیشینه بوده و در حال حاضر ضخامت برف در سالنگ‌های شمالی و جنوبی نزدیک به ۱۲ متر رسیده است.

## خسارات و تلفات بارنده‌گی‌های اخیر

زمستان امسال پر از برف و باران بود، میزان بلند بارنده‌گی با آنکه امیدهایی از بین رفتن خشک‌سالی را در کشور با خود دارد؛ اما در چند روز اخیر با سرازیر شدن سیلاب‌ها در بیشتر ولایت‌های کشور، بخصوص ولایت‌های جنوبی، مردم متحمل خسارات و تلفات زیادی شدند.

بر بنیاد آمار وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث طبیعی، در کل به دلیل وقوع سیلاب‌ها و برف‌باری‌های چند روز اخیر در ۱۷ ولایت کشور تا کنون بیش از ۵۰ تن کشته و ۱۴۰ تن دیگر زخمی شده‌اند. همچنان در جریان این رویدادها ۹۲۶ خانه به گونۀ کامل از بین رفته است و حدود دو هزار خانۀ دیگر قسما تخریب شده است.

در این میان، تلفات سنگین را ولایت قندهار متحمل شده است. به گفتهٔ مسوولان محلی این ولایت در ولسوالی های ارغنداب، دامان، سپین بولدک و شهر قندهار با سرازیر شدن سیلاب‌ها در روزهای ۱۰و ۱۱ حوت سال جاری حدود ۲۵ تن جان باختند و بیش از ۲۰ تن دیگر زخمی شدند. در این ولایت صدها خانهٔ مسکونی تخریب گردیده و نیز به هزارها جریب زمین زراعتی آسیب دیده است.

در کنار ولایت قندهار، ولایت های هلمند، فراه، هرات و نیمروز، نیز از جمله ولایت‌های اند که به دلیل بارنده‌گی‌های شدید و سرازیر شدن سیلاب‌ها، چندین تن در آن کشته و زخمی شدند و نیز صدها خانهٔ مسکونی تخریب گردید. لوگر، غزني، پکتیکا، پکتیا، تخار، بغلان، لغمان، ننگرهار، بامیان، دایکندی، خوست، نورستان و پنجشیر نیز از جمله ولایت‌های اند که در بارش‌های اخیر خسارات جانی و مالی متحمل شده‌اند.

بر بنیاد معلومات مسوولین حفظ و مراقبت سالنگ‌ها در جریان برف‌باری‌های زمستان امسال بیش از ۱۳۰ برف‌کوچ با ابعاد بزرگ سرازیر شده و نیز در جریان زمستان امسال گذرگاه سالنگ هفت بار به دلیل بارش برف به روی ترافیک مسدود شده و در رفت و آمد مردم مشکلاتی زیادی را به بار آورده بود.

در برف‌باری‌های اخیر علاوه از گذرگاه سالنگ، شاهراه بزرگ کابل ـ قندهار در ولایت‌های وردگ، غزنی و زابل، کوتل حاجی گک، کوتل شیبر ولایت بامیان، کوتل ستوکندو در ولایت پکتیا و نیز راه‌های مواصلاتی تمامی ولسوالی‌های ولایت‌های غزني، غور، بامیان و دایکندی با مراکز ولایت‌ها به روی ترافیک مسدود شده بود.

در روزهای که شاهراه برزگ کابل ـ قندهار مسدود بود، صدها موتر مسافر بری و باربری تا دور رزو در دشت‌ها بند مانده بود و صدها تن ار مسافرین در هوای سرد و نبود مواد خوراکی در وضعیت بدی بسر بردند. همچنان در ولایت غزنی به دلیل مسدود بودن راه‌ها، سه تن جان باختند.

## نبود اقدامات پیشگیرانه

سرازیر شدن سیلاب‌ها و برف‌کوچ‌ها از جمله حوادث ناگوار طبیعی است که همه‌ساله در گوشه و کنار جهان اتفاق می‌افتد و باعث خسارات مالی و جانی زیادی می‌شود. هرچند جلوگیری این‌گونه رویدادها مشکل است؛ اما دستورالعمل‌های مقابله با این گونه موارد اضطراری و اقدامات پیشگیرانه‌ای وجود دارد که تهدیدها و زیان‌های این گونه حوادث ناگوار طبیعی را، کاهش می‌دهند.

در افغانستان به دلیل نبود اقدامات پیشگیرانه همه‌ساله با آغاز بارنده‌گی‌های موسومی و سرازیر شدن سیلاب‌ها، مردم تلفات و خسارات زیادی متحمل می‌شوند. با آنکه هربار با سرازیر شدن سیلاب‌ها و یا وقوع حوادث طبیعی حکومت افغانستان با انجام عملیات امداد رسانی تلاش می‌کند تا مردم و اموال شان را نجات دهد؛ اما تا هنوز برای جلوگیری از پیامدهای ناگوار رویدادهای طبیعی در کشور کار بنیادی انجام نیافته است تا به دلیل آن قبل از وقوع حوادث مردم آماده باشند.

وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث طبیعی گفته است که در جریان سرازیر شدن سیلاب‌های اخیر تنها در ولایت‌های قندهار و فراه بیش از دو هزار فرد گیرمانده به دلیل سیلاب‌ها، توسط نیروهای امنیتی افغان نجات یافته اند. به گفتهٔ مسوولان این وزارت، در جریان وقوع حوادث اخیر وزارت دولت در امور رسیده‌گی به حوادث طبیعی در همکاری به وزارتخانه‌های سکتوری، ۳۳ میلیون و یک صد هزار افغانی پول نقد و مواد غذایی برای ۱۲ هزار و ۴۹۱ خانواده و مواد غیر غذایی برای سه هزار و ۱۸۳خانواده در نظر گرفته شده است که هم اکنون به منظور پاسخ‌دهی به حوادث احتمالی به ۱۷ ولایت کشور انتقال داده شده است.

عدم مؤثریت وزارت دولت در امور مبارزه با حوادث طبیعی، یکی از عوامل مهم عدم رسیده‌گی کمک‌ها به مردم متضرر است. این وزارت به دلیل نداشتن یک پلان و استراتژی عملی سالانه در بدترین وضعیت قرار دارد و حتی در زمان وقوع حوادث اخیر مسوولان این وزارت نتوانستند کمک‌های اولیه را در روزهای نخست به مردم برسانند.

## نتیجه‌گیری

سیلاب‌ها، زلزله، برف‌کوچ‌ها، لغزش زمین، خشک‌سالی و غیره حوادثی اند که همواره هموطنان ما حین بروز آن با مشکلات فراوانی روبرو می‌شوند و بعد از وقوع آن ادارات مؤظف وظیفهٔ امدادرسانی را، آن هم به کندی به پیش می‌برد؛ ولی مانند کشورهای دیگر پیش از وقوع رویدادها، برای جلوگیری و یا کاهش زیان‌های آن، کاری صورت نمی‌گیرد.

در حالی که افغانستان از نظر سیاسی و امنیتی در یک حالت دشوار قرار دارد و نیز به دلیل وضعیت اقتصادی ناگوار، مردم این کشور با مشکلات زیاد اقتصادی روبرو اند. در همچون یک حالت سرازیر شدن سیلاب‌ها و وقوع سایر حوادث طبیعی بر وضعیت اقتصادی مردم تأثیرات منفی دارد، خساراتی که در نتیجهٔ وقوع حوادث طبیعی به بار می‌آید، ضربهٔ سنگینی به اقتصاد هموطنان می‌رساند.

بر اساس مطالعاتی که در مورد کاهش زیان‌های حوادث طبیعی انجام شده، این سلسله دارای چهار مرحله می‌باشد؛ اول: اوقات پیش از وقوع حوادث غیرمترقبه؛ دوم: زمانی که اسباب حوادث طبیعی موجود شود؛ سوم: هنگام بروز حوادث؛ و چهارم نیز مرحلهٔ پس از وقوع حادثه می‌باشد.

در کل نیاز است که دولت افغانستان مرحلهٔ پیش از وقوع حوادث طبیعی را در نظر داشته باشد و تدابیر لازم به هدف جلوگیری و یا کاهش زیان‌های همچو حوادث را روی دست بگیرد. همچنان آگاهی عمومی به مردم در رابطه به چگونگی اقدامات پیشگیرانه نیز می‌تواند در کاهش خسارات و تلفات همچون حوادث کمک کند.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com